Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانســتــان اقتصـادي پــرمختګ

خبرپاڼه

درېیم کال - ۲۰مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۲مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۶/۵



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کیــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- هرات کې د شاتو د تولید زیاتوالی

۲- د زرګرۍ صنعت؛ د کورني تولید او صادراتو لپاره اقتصادي ظرفیت

## هرات کې د شاتو د تولید زیاتوالی

په هرات ولایت کې د شاتو د تولید زیاتوالی د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د کورني تولید د پراختیا یوه مهمه نښه بلل کېږي. د سیمه‌ییزو مسوولینو د معلوماتو له مخې، سږکال په دغه ولایت کې شاوخوا ۲۵۰ ټنه شات تولید شوي چې د تېرکال په پرتله ۵۰ سلنه زیاتوالی ښيي. د تولید دغه وده یوازې د شاتو د محصول د زیاتېدو معنا نه لري، بلکې د شاتو مچیو روزنې د پراختیا، د کلیوالو کورنیو د عایداتو د لوړولو او د کرنیزو فعالیتونو د تنوع



لپاره هم اقتصادي ارزښت لري. د مسوولینو په خبره، په هرات کې شاوخوا ۳۰ زره د شاتو مچیو صندوقونه فعال دي. د افغانستان د شاتو د کیفیت، طبیعي سرچینو او پراخو ګل لرونکو سیمو له امله دغه محصول د کورني بازار ترڅنګ د بهرنیو بازارونو لپاره هم د سیالی ظرفیت لري. که د شاتو د صادروونکو له لوري د کیفیت معیاري کول، بسته‌بندي، پروسس، لېبل‌کول او د صادراتو اړوند معیارونه پیاوړي شي، د شاتو صنعت کولی شي د عوایدو کچې په لوړېدو کې مهم رول ولوبوي. د دې صنعت د ودې لپاره د بازار موندنې، معیاري بسته‌بندۍ، د تولیدوونکو د ظرفیت لوړولو او صادراتي بازارونو موندلو ترڅنګ، د پانګونې او خصوصي سکتور د جذب زمینې پراخېدل ډېر اړین دي. په دې صورت کې د شاتو تولید له یوه کوچني کرنیز فعالیت څخه په ارزښت لرونکي صادراتي صنعت بدلیږي.

## د زرګرۍ صنعت؛ د کورني تولید او صادراتو لپاره اقتصادي ظرفیت

په کابل کې د افغانستان د زرګرۍ صنعت د لومړني ندارتون جوړېدل د دغه صنعت د کورنیو تولیداتو، پانګونې او بازارموندنې د پراختیا لپاره یوه مهمه اقتصادي هڅه ده. دغه ندارتون د درې ورځو لپاره جوړ شوی دی. ندارتون کې په ۲۶ غرفو کې د افغانستان په کورنیو طرحو جوړ شوي د سرو زرو بېلابېل محصولات نندارې ته وړاندې شوي دي. زرګري



د افغانستان لپاره یوازې یو هنري صنعت نه دی، بلکې د کارموندنې، پانګونې، کورني تولید او د قیمتي ډېرو د ارزښت لوړولو له پلوه د پام وړ اقتصادي ظرفیت لري. افغانستان د سرو زرو او قیمتي او نیمه‌قیمتي ډبرو زېرمې لري، خو د دغو طبیعي سرچینو اقتصادي ارزښت هغه مهال څو برابره کېدای شي چې استخراج، پروسس، ډیزاین او تولید یې په هېواد کې دننه پراخ شي. د زرګرۍ د صنعت د ودې مهمه برخه صادرات دي. افغان تولیدوونکي کولای شي د نړیوالو معیارونو، معیاري ډیزاینونو، کیفیت او بسته‌بندۍ له مراعتولو سره د کورني بازار تر څنګ سیمه‌ییزو او نړیوالو بازارونو ته د محصولاتو د صادرولو لا ډېره زمینه برابره او بهر کې خپلو تولیداتو ته پراختیا ورکړي. دا به د افغانستان لپاره د عوایدو او کاري فرصتونو د زیاتیدو لامل شي.